# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


نشریه پیشرو شماره ۴۱

۱۶ دسمبر ۲۰۱۱

## آسیا او د امریکې ښکیلاکي سیاست

په پانګواله رژیمونو کې هڅه کیږي چې هر څو موده وروسته له لاسه تللی توازن له سره ټینګ شي او د دې ټینګیدلو لپاره په صنعت کې له بحران او په سیاست کې له جګړې پرته بله وسیله نشته او دا جګړه ده چې د خصوصي مالکیت وده تضمینوي او د ښکیلاکي سیاست د پلي کیدو لپاره مهم او اړین شرط ګڼل کیږي.

د امریکې اوسنی خونړی جګړه ایز سیاست او دننه په هیواد کې بحران او کړکیچ په څرګند ډول د دې وینا منځپانګه تائیدوي او له همدې امله دی چې امریکې له کلونو راپدیخوا آسیا د خپلو ښکیلاکي ګټو لپاره د هدف په توګه ټاکلې او د همدې هدف د حصول لپاره یې په تیرو شپیتو کلونو کې پر آسیا د ولکې اچولو لپاره په کراتو اقدام کړی او د دې اقداماتو لړۍ په تیرو لسو کلونو کې یو ځل بیا په امریکې او اروپا کې د اقتصادي کړکیچ له زیږیدنې سره سم د افغانستان او عراق په جګړو کې ادامه موندلې ده چې د امپریالیستانو د اقتصادي ګټو له «توازن» او «انډول» سره نیغ په نیغه اړیکې لري. له هغه ځایه چې پانګوالیزه اقتصاد تل له انارشیزم سره مل وي نو دا انډول هم هیڅکله نه تر لاسه کیږي او ښایي نړۍ په امپریالیستي پیر کې د جګړو پرله پسې او دوامداره لړۍ تجربه کړي، ځکه چې د پانګوالو زبرځواکونو تر منځ د نړۍ د ویشلو په موخه جوړجاړی موقتي بڼه لري او تاریخ ښودلې ده چې پانګوالان نشي کولای نړۍ بې له زوره او جګړې وویشي .

امریکا هم د دې لپاره چې نړۍ یو ځل بیا وویشي او هغو ګواښونو چې د مخ په ودې هیوادونو د سر راپورته کولو له امله یې «انډول او توازن» ټکنی کړی، له منځه یوسي، له خپلو اروپایي متحدینو سره د «جوړجاړي» سیاست په اډانه کې د آسیا لاره ونیوله او په دې وروستیو کې یې فرانسه، انګلیس، آلمان او ایټالیا پریښودل چې د «توازن» لپاره پر لیبیا یرغل وکړي او دغه هیواد په کنډواله بدل کړي.

امریکې د آسیا د ښکیلاک په موخه، لومړی په افغانستان او بیا پر عراق باندې د یرغل له لارې د خپلې ستراتیژۍ لومړني پړاونه پیل کړي دي او له هماغو لومړیو ورځو څخه نه یوازې د افغانستان او عراق زیارکښه ولسونه بلکې د نړۍ ټول ولسونه په دې ښه پوهیدل چې دا یرغل او جګړه نه د «حق او عدالت» او «ترهګرۍ ضد»

جګړه، بلکې هماغه اقتصادي ناورين دی چې د کړکيچ په بڼه يې سر راپورته کړی او بايد په سياست کې د جګړې په توګه مخې ته لاړ شي، څو «له لاسه تللی توازن» تر لاسه او کورني کړکيچونه آرام کړای شي.

سره له دې چې د دې جګړې ماهيت او د افغانستان او عراق نيواک په څرګنده توګه معلوم وو، خو بيا هم ځينې «روڼ اندي» په ناآګاهانه ډول د پانګوالی هغو تبليغاتو لکه «آزادي بخښونکي جګړه»، «ملي جګړه»، «د آزادۍ جګړه»، «د بشري حقونو جګړه» او... تر اغيزې لاندې راغلل چې بورژوازي يې تل د خپلو ښکيلاکي جګړو لپاره بيانوي. خو ځينو په دې مزخرف استدلال سره چې ګويا دا جګړه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا په دستور تر سره کيږي، نه د امريکا؛ په آګاهانه ډول يې دا ښکيلاکي جګړه تر شيږو – اوو کلونو پورې د اشغال پر ځای «مداخله» وګڼله او ويې ښودله چې د مخکښتيا ادعاګانې يې هسې د دوړو باد دی!!

د امريکا د بهرنيو چارو وزيرې، هيلري کلنټن، وروستی ليکنه چې د سږکال په نوامبر مياشت کې د «فارن پاليسي» له لارې خپره شوه او په حاشيه ای عنوان کې يې ليکل شوي «د سياست راتلونکی په آسيا کې ټاکل کيږي» څرګندوي چې په آسيا او په ځانګړي توګه په افغانستان او عراق کې د دې امپراتورۍ شتون نه د «مداخلې» او نه هم «د تروريزم ضد جګړې» بڼه لري، بلکې هغه ښکيلاک سياسي – اقتصادي دی چې دا امپراتوري يې د خپل تداوم لپاره ضروري ګڼي.

ميرمن کلنټن په دې مقاله کې ليکي چې په تيرو لسو کلونو کې موږ په افغانستان او عراق کې خپلې ډيرې سرچينې په کار واچولې خو بايد په راتلونکو لسو کلونو کې د دې موخې لپاره چې چيرې خپل وخت او انرژي وکاروو او څرنګه پر خپلې پانګه اچونې، ډيپلوماسۍ، اقتصادي او ستراتيژيکو چارو په پراختيا باندې تمرکز وکړو بايد په جدي توګه کار پيل کړو. همدا ډول هيلري کلنټن - سره له دې چې وايي د امريکا راتلونکی په عراق او افغانستان کې نه ټاکل کيږي- خو په دې هيوادونو کې د خپل دولت لګښتونو ته په اشارې سره وايي چې ځينې امريکاييان دا دريځ لري چې امريکا نبايد د خپلو کورنيو چارو پر ځای ډيره په بهرنيو چارو کې اخته وي خو هغوی غلط فکر کوي او بايد په دې پوه شي چې په بهر کې د امريکا اخته کيدل، د امريکې کورني اقتصادي او امنيتي چارو سره نيغ په نيغه اړيکه لري. نو ښايي امريکا بهر پاتې شي څو خپلې کورنی ګټې خوندي کړي، ځکه په اوسني شرايطو کې د آسيا پراخ بازارونه، سينډلارې او د پانګې اچونې فرصتونه هغه څه دي چې امريکاييانو ته په بی سارې ډول وخت ورکوي له هغوی څخه په خپله ګټه کار واخلي.

هيلري کلنټن زياتوي چې همغسې چې آسيا د امريکا لپاره جدي او حياتي ضرورت ګڼل کيږي، د امريکا شتون د آسيا لپاره هم ضروري دی او په زغرده ليکي چې امريکا يوازينی هغه قوت دی چې په سيمه کې د خپلو متحدينو ډيره پياوړې شبکه لري. خو دا وزيره د آسيا له ګټو څخه يوازې هغه ۳۵۰ زره آسيايي محصلينو ته اشاره کوي چې دا وخت په امريکا کې په تحصيل بوخت دي. هغه ليکي چې دا وخت په چين کې د امريکا د پانګوالو ۵۰ ملیارده ډالره پانګه اچونه د امريکې په ګټه ده؛ هند او اندونيزيا هغه دوه «دموکراسيانې» دي چې کولای شي د امريکې د اقتصاد لپاره ګټورې تمامې شي؛ امريکې تير کال پاسيفيک سيمې ته ۳۲۰ ملیارده ډالره صادرات درلودل چې د دې صادراتو له امله په امريکا کې ۸۵۰ زره نوی دندې رامنځته شوي او د اوباما د اقتصادي سياست پر اساس بايد تر ۲۰۱۵ کال پورې د امريکې صادرات دو چنده شي او د نويو سوداګريو زمينې په آسيا کې ولټول شي؛ د امريکا سوداګر او پانګوالان د آسيا په متحرکو مارکيټونو کې د پانګې اچونې فرصتونه موندل او زموږ د صادراتو پراختيا ډيره با اهميته ګڼي؛ جنوبي کوريا به په راتلونکو پنځو کلونو کې د امريکا په صادراتي مصرفي توکو تعرفه ٪۹۵ راټيټه کړي چې دا کار به ۷۰ زره دندې په امريکا کې رامنځته کړي او د امريکا

صادرات به دي هیواد ته ۱۰ ملیارده ډالرو ته لوړ شي. دا وخت د امریکا د ګټو لپاره ۵۰ زره سرتیري په جاپان او جنوبي کوریا کې میشت دي، نو د دې ګټو په پام کې درلودلو سره نه ښایي چې موږ په شا شو، باید مخې ته ولاړ شو او هغه فرصتونه چې یوویشتمې پیړۍ موږ ته په آسیا کې راکړي، له هغې باید د امریکا په ګټه کار واخلو.

هیلري کلنټن بالاخره لیکي چې په بهر کې د امریکا شتون شپږ موخې لري: د امنیتي دوه اړخیزه متحدینو پیاوړتیا، د چین په شمول د مخ په ودې هیوادونو سره د تعلقاتو ژورتیا، په سیمه ایزو څو اړخیزه نهادونو کې شتون، د سوداګرۍ او پانګې اچونې پراختیا، د پراخه نظامي شتون قانونتیا او د دموکراسی او بشري حقونو پرمختیا.

او دا شپږ موخې که په دقیقه توګه وڅیړل شي، له ښکیلاک څخه تشې نه دي او که د نړۍ په هره سیمه کې پلې شي د دې ښکارندویي کوي چې هغه هیواد د ښکیلاک په لاس کې دی. دا موخې څرګندوي چې د «تروریزم »، «دموکراسي او بشري حقونو»، «عدالت او هوسایني» شعارونه یوازې عوامفریبي ده. حال دا چې اصلي او محوري سیاست د آسیا نیول دي او وروسته له دې دا آسیا ده چې د امریکا د امپراتورۍ تداوم او راتلونکی ټاکي او واقعیتاً دمګړۍ زموږ هیواد د دې تداوم محوري سیمه ده چې باید د پوځې اډو او دایمي شتون («د پراخ نظامي شتون قانوني کیدل») له لارې د دغې ستراتیژۍ په خدمت کې وي.